AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

پوهنمل رحمت ځواکمن
۲۰۱۱/۰۸/۰۴

# (( په ډېرو لېوني خوښ دي))
# طنز

اڅک زموږ په ټولو ټولګیوالو کې خندنی او د ژوندي زړه څښتن و، هغه چې منځنۍ ونه درلوده نه یې ډېر او نه یې لږ خوراک کاوه، نه یې ډېرې او نه یې لږې خبرې کولې، نه شوره ښې و او نه ډېر چوپ، نه پوره ښاری و او نه پوره کلیوال، نه ډېر شتمن و او نه ډېر بې وزلی، نه ډېر لایق و او نه ډېر نالایق. بس هغه د ژوند په ټولو اړخونو کې منځنۍ حالت درلود.

د هغه د ځانګړتیاوو د همدغه منځني حالت له مخې و چې هغه به تل په ازموینه کې د پنځوسو نومرو ترلاسه کولو ته کوښښ کاوه. له همدې امله و چې زیاتره به د ازموینې په وخت کې له ځایه پورته شواو استاد ته به یې په خوشاله لهجه وویل: استاده! زما یوازې پنځوس نومرې په کار دي، که پنځوس نومرې راکوې زما پاڼه له ټولو لومړۍ همدا اوس اخیستلای شې. استاد به یو څه په حیرانوونکې بڼه وروکتل، کله به یې له اڅک سره د پنځوسو نومرو په ورکړه ژمنه وکړه او کله به یې هم اڅک د پوښتنو حل کولو ته اړ کړ. اڅک همدا ډول په پنځوسو نومرو د پوهنځي له لومړي ټولګي څخه تر څلورم ټولګي مخ ته ولاړ، په څلورم ټولګي کې هغه ډېر خوشاله برېښېده، زیاتره وخت به یې له ټولګیوالو سره په ټوکو ویل:

توریالي خو خپل زړه او مغز په ډېر درس ویلو وخوړ، دا یې اول نومره! اخر یې څه وکړل، هغه هم د څلورم ټولګي محصل دی او زه هم. ماته هم د پوهنتون محصل وایي او هغه ته هم... یوازې له پوهنځي څخه د فراغت سند مهم دی، هوکې د فراعت سند. که هغه په سلو نومرو په زیات زړه خوږلو فارغ شي او زه په پنځوسو نومرو، بیا هم یو ډول مسلکي اخلو. په سره ورته ادارو کې به دندې ترسره کړو او بیا به هغه له ماسره هېڅ توپیر ونه لري، هېڅ توپیر... او له دې سره به زیاترو په کټ کټ وخندل.

اڅک په دې ډول یوازې پر پنځوسو نومرو بسیا کوله. که په کوم مضمون کې به پوهېده چې پرته له نقل وهلو پنځوس نومرې نه شي پوره کولای او استاد هم ورسره په سپینه پاڼه د پنځوسو نومرو په ورکړه موافقه نه کوي، نو په یوه ځای کې به ګوښه شو او د نقل دوه درې تاویزونه به یې جوړ کړل، چې یوازې پنځوس نومرې ورباندې ترلاسه کړي او بیا به ډېر ژر د هغو ټولګیوالو خواته ورغلی و چې د لوړو نومرو د لاسته راوړلو سیالي یې درلوده او ازموینې ته به په تیارۍ بوخت وو. ددې لپاره چې هغوی هم له لوستلو وباسي نو په ملنډو به یې لاس پورې کړ: بس کړئ، سرونه مو خپل وخوړل (( په ډېرو لېوني خوښ دي)) دومره خواره وخورئ چې هضمولای یې شئ. دومره نومرې واخلئ چې بریالي شئ او له دې سره به یې د کوم یوه کتاب ورټول کړ او بیا به ورته په ملنډو لګیا شو: لیرې کړه کتاب دې، د کتاب مجنونه...

اڅک په دې توګه په پنځوسو نومرو له پوهنځي څخه فارغ شو. له موږ ټولو سره دا فکر و چې اڅک به د پوهنځي له فراغت نه وروسته هم منځنۍ لاره ونیسي. په نه ډېره لوړه او نه ډېره ټیټه څوکۍ به دنده ترسره کړي، نه به ډېر وختي او نه ډېر ناوخته د کار ساحې ته حاضر شي، یوازې د همدومره پیسو په لټه به وي چې د ژوند منځنۍ سطحه یې وساتي... خو داسې ونه شول. اڅک ډېر ژر د رسمي دندې له اخیستلو وروسته خپله منځنۍ لاره پرېښوده، په دې او هغې وسیلې یې ډېره لوړه څوکۍ ترلاسه کړه. اوس یې ډېر نوی موټر له نورو ټولو موټرو چټکه ځغاسته کوي او له ټولو زیات تېل لګوي، زیاتې خبرې کوي، ښه اشتها لري، بشپړ ښاري ښکاري، غواړي له بل هر چا شتمن او د ژوندانه لوړه سطحه ولري، خو زما یې دا خبره نه هیرېږي چې ویل به یې: په ډېرو لېوني خوښ دي او...

پای


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ